دجهادهنداره

مرآت الجهاد

لومړی کال (۱۲)گڼه، ۱۳٦۹هـ ش دقوس(۱۳)

هفت پوسته دشمن فتح گردید

رزمنده گان مجاهدولسوالی شکردره ولایت کابل هفت پوسته دشمن رافتح وطی آن برعلاوه غنایم زیاد یك دستگاه پرتاب بی ، ام (۱۳) چارعراده تانك وهشت لاری اکمالاتی قوای رژیم کابل راتخریب نمودند .

درخبریکه به نقل ازیك منبع جهادی انتشاریافته آمده است که مجاهدین مذکوربروزپنج

درصفحه « ۸ »

له نجیب یا ظاهرشاه سره هرډول معاهده دافغانستان دجهادپر ضد دسیسه ده

«قاضي حسین احمد»

(۵)مخ کی

الحاج مولوي جلال الدین حقانـي له فرهنگي مسـولینو سره په ځانگړی مرکه کی:

وروڼو! دنشراتو له لاری تبلیغ څکه مؤثر اوداهمیت ورډی چی له هغی نه په حال اوراتـلونکي کـی هر ځای استفاده کیدلی شي

(۲)مخ کی

جان میجردانگلستان دصدراعظم په توگه وټاکل شو

دانگلستان دمحافظه کارگوند دانتخاباتو په دویم پړاو کی جان میجر چی پخوا دهغه هیواد دمالیی وزیر ؤ دصدراعظم په حیث وټاکل شو اوددفاع پخوانی وزیر مایکل هیزلتاین چی دجان میجر رقیب ؤ ، ماته وخوړه . جان میجر ٤٦ کلن دی

❋❋❋❋

سرمقاله

دامتحان نوی ډگر اودملت انتظار

دملت دراتلونکی برخلیك ټاکلو لپاره دیوی مقتدری اسلامی شورا یادحل او عقدشورا او یالویې جرگی دجوړولو په خاطر له ډیر ستړي او اوږده انتظار وروسته دعبوری حکومت له خوا لومړی گام هغه وخت پورته شو چی ددغه حکومت دستری محکمی لخوا دانتخاباتو د پروسی دعملی کولو لپاره دتیری یکشنبی په ورځ هیوادته دنظار هیئتونو د استولو په مناسبت کنفرانس جوړشوی ؤ.

که څه هم زموږله هیواد څخه دروسانو له وتلو سره سم داووگوندونو د خوښی او طرحی په اساس یوه مشورتی شوری جوړه او دهغی شورا له خوا یو انتقالی حکومت جوړشو چی دیوې میاشتې په موده کې به هیوادته دننه انتقالیږی او تر شپږو میاشتو پوری به بیا یوه مقتدره اسلامی شورا چې د ملت لخوا انتخاب شوی وي ددی حکومت تائید او یا دبل حکومت دجوړیدو اقدام کوی .

دانتقالی شوری جوړیدل او بیا دعبوری حکومت قیام هم په خپل ځای ښه اقدام او گټور گام ؤ ځکه هرانقلاب بالاخره د مبارزی او جهاد په نتیجه کی د مبارزی له مختلفو مرحلو څخه ضرور تیریږی او بیا یوې داسی مرحلی ته هم خامخا وردننه کیږی چی ملت او ولس ته د اداري او نظام سیستم او نمونه ورکوی چی د روسی پوځونو له وتلو سره سم نور زموږ مجاهد قیادت د تنظیمونو په چوکاټ کی باید نه وای پاتی شوای او ملت ته یی دټول ملت په سطحه د اداری او نظام یو واحد قیادت او سیستم

په (۸) مخ کی

پلچرخي بدترین زندان درنیم کرهٔ آسیا غربي

پلچرخی یکی ازبد ترین زاندانهانه تنها درافغانستان بلکه درنیم کرهٔ آسیای غربی بوده وشرایط آن باسطح ومعیاریکه دراسنادحقوق بشر تذکر رفته و یا با معیاریکه ملل متحد برای زندانها تعین

(۵)مخ کی

یوې مبارزې فلسطینۍ دانتحاري عملیاتوپه نتیجه کی زیات شمیریهودیان ووژل

یوې مبارزې فلسطیني ښځې چې داسرائیلو له گزمه یې پوستي څخه تیریدله دقوس په دویمه نیټه دبم دیوي چاودني په وسیله زیات شمیر اسرائیلیان له منځه یوړل اوخپل ځان یې په شهادت ورساوه دسوریې پلوي سازمان چې ددې حملې مسؤلیت یې په غاړه نیولي ویلي دي : پدې پیښه کې اسرائیلو ته زیات تلفات اوښتي دي خواسرائیلي منابعو څرگنده کړیده چې دوه تنه عسکرهلاك اویوشمیر زخمي شویدي .

پدې پیښه کې چې دبیو فورد دماڼۍ په ساحه کې داسرائیلو سرحد ته نږدې وشوه ، یوماشوم هم ټپي شو .

دفلسطینیانو پرخلاف دامریکا اواسرائیلویوخطرناك سازش

(۲)مخ کی

په خلیج کې دجگړې دپیښیدو خطر اودهغې ناوړه نتیجې

(٦)مخ کی

دبلغاریا دکمونست گوند پخواني رهبر تیودورژیدکوف له نیویارك ټایمز ورځپاڼي سره په مرکه کې ویلي دي :

که لینن هم نن ژوندي واي اعتراف به یې کړاي واي چې کمونیزم یوه غټه اشتباه وه. پخواني مخلوع دیکتاتورویلي دي که چیرې زه بیا دسره ځوان شواي واي نوکمونیزم ته به مي مخ نه واي اړولي اوکه لینن هم ژوندي واي نوهمدا کار به یې کړاي واي .

دامنیت شورا غړو دعراق پر خلاف دقوی داستعمال غوښتنه وکړه

دملگرو ملتو دامنیت شورا غړو هیوادونودرایو په اکثریت پر یکړه وکړه چی عراق باید دنوی عیسوی کال دجنوری ترپنځلسمی نیټی پوری خپلی قواوی له کویټ څخه وباسی اوکه داکارونکړی نودعراق په مقابل کی به له قوی څخه کار واخستل شی .

پدی هکله دامنیت شورا له (۱۵) غړو هیوادونو څخه

(۵)مخ کی

تشویش ازوضع صد ملیون طفل محروم ازتحصیل

فعلاً درحدودصدملیون طفل درجهان ازامکانات درس وتعلیم محروم هستند .

این مطلب دراعلامیه کنفرانس بین المللی «حمایت حیات ورشد اطفال »که چندی قبل به پایان رسید تسجیل گردیده است.

هدف ازتدویر کنفرانس این بود تا بصورت دسته جمعی

درصفحه « ۳ »

دانتخاباتو دترسره کولو لپاره دعبوري حکومت دنوي گام اوستری محکمی په تالارکی دغونډی راپور

(۳)مخ کی

زمونږ هیله ده چی عبوري حکومت پر خپلو تعهداتو وفا وکړي اوخپل فعالیتونه دهیواد په داخل کی ژر تر سره کړي

(الحاج حقاني)

PROPERTY OF ACKU

د جهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : (۱۳۶۹) هجري شمسي

دفلسطينيانو پرخلاف دامريكا اواسرائيلو يوخطرناك سازش

داسرائيلو دجوړيدو تاريخي پس منظر

دوهمه برخه

په ۱۸۸۷ م كي يوه يهودي «تيودورهرزل» په ټوله نړۍ كي دتيت پرکو يهوديانو لپاره ديوه ځانگړي هيواد دجوړيدو پر نظريه په سويس كي لومړنی صهيوني كانفرانس دايركړ ، دغی كنفرانس ته ورته بيانور كنفرانسونه هم جوړشول ديهودي هيواد دجوړيدو لپاره ترټولو دمخه دسينايي په بيديا كي د« ال عيرش » په نوم ځای پيشنهاد شو خوټول يهودي مشران پر هغه متفق نه شول وروسته بيا په ۱۸۹۳ م كي دبرتانيي دنويو ميشته كيدو دادارې عمومي منشي جوزف چيمبرلين اوتيودورهرزل ترمنځ يوه كتنه وشوه چي په دغه كتنه كي ديهودي دولت دجوړيدو لپاره دختيځې افريقا ديو گنداهيواد خوښ كړای شو خو روسي يهوديان له فلسطين نه پرته په بل ځای كي ديهودي دولت دجوړيدو سخت مخالف وو، ترڅو چي په ۱۹۱۷ م كي بريتانيا دبالفورداعلاميی له مخی په فلسطين كي ديهوديانو دمستقل هيواد دجوړيدو منظوري وركړه :

دبالفورداعلاميی په باب دانگليس يوه پخواني صدراعظم يوه عجيبه غوندی خبره وكړه هغه وويل چي ديوه يهودي ساينس پوه ويزمين دخدمتونوپه بدل كي چي له بريتاني سره يی دلومړي نړيوالي جگړي په وخت كي ترسره كړي وو برتانيی دبالفوراعلاميه خپره كړه .

ترڅو هلته ديهوديانو مستقل هيواد جوړشي اودابه دنوموړي يهودي ساينس پوه جايزه وي . مايكل جی كوهان ليكی چی ديهودي رياست دجوړيدو لپاره دبريتانيی دمرستی اعلان دبين المللی صهيونيزم دفشارونو يوه بارزه نمونه ده ، په حقيقت كي انگريزانو په منځنی ختيځ كي دخپلو گټو دساتنی په غرض ديهودي رياست دجوړولو پريكړه وكړه په دی ډول هغوی په يوه غشی دوه ښكاره كول غوښتل له يوی خوابی په دی كار يهوديان تراحسان لاندی راوستل اوله بلی خوابی په عربی نړۍ خپل فشار ته دوام وركولی شو هغه وخت دانگريزانو په خيال اوسوچ كی داهډو ورتلل نه چی ددوی حاكميت اواقتدار يوازی خو محدود كلونه دی اوبيا به دغه اقتداراوسرمشري امريكا ترلاسه كوی .

اوبيا وروسته دفلسطين دآزادی لپاره انتفاضه غورځنگ بيادادی مقصد لپاره بيل شو چی ديهوديانو دظلم اوستم نه

(۷) مخ کی

اسرائيلي يهوديان عقيده لري چي شاه حسين دفلسطينيانو سره دلاس گريوان كيدو ښه تجربه لري هغه په اردن كي په ۱۹۷۰ په سپتمبر كي هم دفلسطين مهاجرين او مجاهدين په پراخه پيمانه ووژل .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني له فرهنگي مسؤلينو سره په ځانگړي مركه كی:

دلينډۍ دمياشتي په ۱۱مه ديكشنبی په مازديگر الحاج مولوی جلال الدين حقانی دجهاد هنداری اومنبع الجهاد له فرهنگی مسؤلينو اومنسوبينوسره دفرهنگی مورچل دتقدس اوارځښت په باب يو په زړه پورې مجلس درلود ، موږدلته دفرهنگی امورو په باب دحقاني صاحب عالمانه څرگندونی دجهاد هنداری لوستوالو ته وړاندی كوو . (اداره)

نحمده ونصلی علی رسوله الكريم اما بعد...

بسم الله الرحمن الرحيم

الله (ج) دځمكی پر مخ دفساد اوفتنی دوركولو اوددين دحاكميت اوكليمی دلوړاوی په خاطر پر خپلو مؤ منو بندگانو جهاد فرض كړی دی اوپه دی اړه دقران عظيم الشان په زياتو آياتونو كی تصريح احكام شته، لكه چی تاسی ته معلومه ده جهاد څوقسمونه لري:لكه په لاس سره جهاد ، په مال سره جهاد ، په قلم سره جهاد ، په ژبی سره جهاد او...

دجهاد په ډولونوكی يوهم په قلم سره جهاددی اولكه څومره چی دجهاد دانوراقسام هريو په خپله برخه كی مهم اواغيزمن دی دغسې قلمی جهاد هم ددين دبيلا بيلو دښمنانو دزهرجنو تبليغاتو دخنثی كولو اودهغوی ناولو څيرو درسواكولو اوافشاء كولو په برخه كی ډير مهم اوارزښتناك دی .

ورونو ! دفرهنگي جهاد اساسی وظيفه تبليغ دی اوتبليغ له دوولارونه په ښه اومؤثره توگه ترسره كيدای شي يوعالم دمنبر له لارې خلكو ته تبليغ كوي ممكن په هغه ځای كی ناست خلك يې واوری اولږو ډيره استفاده ترې وكړي،خوټول هغه څه چې ويل شوي وي اوبايد حافظو ته وسپارل شی اوعمل پرې وشی په هغه وخت كی ټول څوك خپلو حافظو ته نشی سپارلی اودوخت په تيريدو سره ترې هيريږی

حسان بن ثابت اوعبدالله بن رواحه هغه شاعران وو چي پخپلو شعرونويي داسلام دښمنانو دتبليغاتو ځواب ووايه ، داسلام دستر پيغمبر داوصافو اواخلاقو په ستاينه كي يي شعرونه وويل اوداسلام دحقي لاري دسر ښندني شجاعت ، ميړاني اوقهرماني اوحماسي يي په اشعاروكي ستايلي .

لومړی داچی دمنبر له لاری كيږی اوهغه داسی چی علما اومبلغين دمنبرله لاری خلكوته تبليغ كوي،الهی احكام اونبوی ارشادات ورته بيانوی، خپلو نيمگړتيا.ته يی متوجه كوی اوددينی اواخروی نيكمرغی لاری چاری ورته په گوته كوی .

دتبليغ بله مؤثره لار نشرات (كتاب ، اخبار، مجله او.....) دی .

دنشراتو له لارې تبليغ ځكه ډير مؤثراواسانه دی چی له هغی نه په حال اوراتلونكی وختونو كی هرځای استفاده كيدلای شی هغه څه چی ليكل كيږی نن يې هم خلك لولی اوسبا ته هم ساتل كيږی.كه خودنشراتو له لارې په اسانۍ سره كيدلی شي هغه بيا بيا مطالعه كړی اوضرورت پر وخت ورته بيرته مراجعه وكړی، دنشراتو په وسيله كيدلی شی چی دنړۍ په گوټ گوټ كی يو دبل له افكارو اواثاروڅخه گټه واخلی .

ورونو!دفرهنگی كارونو له اغيزاومهموالی څخه هيڅوك هم انكار نشي كولی كه موږاوتاسی داسلام تاريخ ته وگورووداسلام دستر پيغمبر حضرت محمد (ص) په زمانه كی اوهمدارنگه دراشده خليفه گانو اوراوروسته اسلامی خلافتونو اورياستونوكې هيڅكله دهغی مهموالی له پامه نه دی غورځولی ، دقرآن عظيم الشان ترتيب اوتكثير دبيلا بيلو علماو له خوا دنبوی احاديثو راغونډول اوخپرول دمفسرينو له خوا دقرآنكريم دترجمو تفسيرونو ليكل ، دفقهي كتابونو تاليف اوتصنيف اوهمدارنگه داسلامی تاريخونو ليكل او... زموږددې خبری څرگند ثبوت دی،نوويلی شو چی داټول كارونه دعلم اوفرهنگ نشر ته دپاملرنې له بركته شوی دی .

ورونو! تركومه چی خبره په فرهنگی جهاد پوری اړه لري لكه چی دمخه می وويل فرهنگی جهاد هم دجهاد دنورواقسامو په څير مهم دی اوددې مهموالی له دی نه هم

(۶) مخ کی

مسله امنيت وهمكاري دراروپاي فاقد كمونيزم

س. تازه

دردهه دوم ماه نوامبر ۱۹۹۰ سی ودو كشوراروپايی بشمول ايالات متحده امريكا وكانادادرپايان كنفرانس سه روزه سران كشورهای مذكوركه درپاريس مركز فرانسه دايرگرديده بود متفقاً منشورجديدی پيرامون امنيت وهمكاری دراروپابه امضا رسانيدند .

اشتراك كنندگان اين كنفرانس بزرگ وتاريخی با امضای اين منشورخودرا به سه اصول دموكراسی ، انتخابات ازاد ، دموكراسی اجتماعی واقتصاد بازار ازاد متعهد نمودند .

اين پيروزی هنگامی حاصل شد كه ديگر ديواراهنين (كمونيزم) درشرق اروپا فروريخته وبرفرازخرابه های ان نهادهای نوين دموكراسی گذاشته ميشود .

كنفرانس امنيت وهمكاری اروپا برای نخستين باردرسال ۱۹۷۵درهلسنكی مركزفنليند برگزارشد واين اقدام درزمانی صورت گرفت كه جنگ سرد كه با استقرارپكت كمونستی ازبخش خاوری اروپا اوج گرفته وتمام اروپائيان راخسته ساخته بود .

اروپائيان درپايان جنگ دوم جهانی با تحمل تلفات وخسارات بسيارزياد متوجه اين امرشدند كه ديگر ازفتوحات و تلاش بخاطر اعمارامپراطوری پر هيز نموده درعوض بيشتر سعی بخرج دهند تا درفضای صلح وتفاهم باهمی زيست نمايند .

دراروپای كه بعد ازپايان جنگ دوم جهانی عملاً ازنگاه نظامی وسياسی بدوبخش منقسم شده ونيروها دربرابر هم فعالانه صف ارايی داشتند رسيدن باين ارزو اسان نبود .

دركنفرانس ۱۹۷۵ هلسنكی گرچه ظاهراً پيمان همكاری ازطرف سران كشورهای اشتراك كننده اروپا يی كانادا وامريكا به امضا رسيد اما درانجا اختلافات روی مسأله حقوق بشر ميان كشورهای بلاك كمونستی درشرق اروپا وكشورهای غربی گرها رانا- گشوده ماند.

كشورهای غربی ميخواستند اصل ازادی وتامين حقوق بشر درتمام كشورهای عضودرج منشورگردد اما ازانجا يكه سيستم كمونيزم تمام حقوق انسانی رازير پا می كند رهبران كشورهای كمونستی انوقت نخواستند ازادی انسانی وحقوق بشر درج منشورهلسنكی گردد ازهمين جهت كنفرانس هلسنكی پيروزی های رادربخش استحكام امنيت وانكشاف همكاری متقابل كشورهای اروپا راباعث نگرديد .

با اضمحلال نظام های كمونستی دركشورهای اروپا ی

(۷) مخ کی

دانتخاباتو دترسره کولو لپاره دعبوري حکومت دنوي ګام اوستری محکمی په تالارکی دغونډی راپور

دجهادهنداری خبریال :
دقوس (۱۱) مه دیکشنبی په ورځ دعبوری حکومت دستري محکمی له لوری دانتخاباتو دپروسی دعملی کولو لپاره دنظار هیئتونو دلیږلو لپاره یوافتتاحی کنفرانس جوړشوی ؤ
دغه کنفرانس ته دجهادي اوه ګونو تنظیمونو ځنو مشرانو ویناوی وکړی.دغونډې په پیل کی دانتخاباتو دپروسې دعملی کولودطرحی اولویی جرګی اویاحل اوعقد دشوری په باب ډاکتر فاروق اعظم دعبوری حکومت دښوونی اوروزنی وزیر داسی رڼا واچوله :
دغه ورونه چې دنظار هیئت په نوم ټاکل شوی دي دوی به ځی په مربوطه ولسوالیو اوولایتونوکی به له دري طبقو « سپین ږیرو اومحورو-قوماندانانو اوجیدو علماو سره مشوره کوي اودهغوی په خوښه اومشوره به هرې ولسوالۍ نه لس تنه دلویی جرګی یا اسلامي لویی شورئ اویا دشوری دحل اوعقد لپاره انتخابوی ، دغه ورونه چی په پنځو انتخاباتی حوزو کی دانتخاباتو پروسه پر مخ بیایی ټول شل ولایتونه احتواکوي ، ډیر زربه بل دنظار هیئت کویټې اوایران ته واستول شی ، همدارنګه به په پیښورکی هم میشته مهاجرین ډیر زرخپل دخوښې مخوراوعلما اسلامی ستری شوری ته معرفی کړی .
ډاکتر فاروق اعظم زیاته کړه

دراغوښتلو او دجرګی دایرولو خبری وروسته ترسره کیږی ، دغه لویه جرګه به دراتلونکی اسلامی حکومت لپاره یو تشکیل جوړوی اویوه مقتدره شوری به یی ترشا ولاړه وي.
وروسته بیا حضرت صاحب ته دخبرو وارورسید ، حضرت صاحب د شوری په باب دقرآن اوسنتو له مخی دهغه ارځښت ته اشاره وکړه وې ویل : په قرآن کریم کې یوه سوره دشوری په نوم نومول شوی اوحضرت پیغمبر(ص) به په هر کار کی دخپلو اصحابو سره مشوره کوله ، شوری په اسلام کی زیات ارځښت لري .
هغه زیاته کړه:تاسو دهینت نظار ورونو ته ډیر ستر مسؤلیت په غاړه دراچول شوی تاسی به ځئ دملت نمایندګان به ټاکئ چی دافغانستان داسلامی هیواد راتلونکی سرنوشت په لاس کی واخلی .
حضرت صاحب وویل چی مورته چی کوم مسولیت راسپارل شوی ؤ ،ومو نشو کولی چی دهغی له عهدې څخه ووځو اودا کفایت مونه درلود ، دغه دانتخاباتو دهینت نظار ورونه به ځی ترڅو با کفایته ورونه له ملت نه انتخاب کړی او هغوی بیا ددی ملت لپاره با کفایته حکومت اومشر وټاکی .
وروسته بیا قاضی محمد امین وقاد دمیکروفون مخی ته راوبلل شو هغه هم دوخت دکمي له امله په خپله

افغانستان « حکمتیارصاحب» مرستیال ته دخبروقار ورسید ، هغه هم دانتخاباتو دهیئت نظار دروند مسؤلیت په باب یادونه وکړه ویی ویل :
ورونو له نیکه مرغه چې عبوری حکومت بالاخره په دی وتوانیده چې دافغانستان دملت دنمایندګانو دانتخاب لپاره عملی ګام واخلي داچی داکارباید دمخه شوی وای خوچی اوس عملی شی هم نیك کاردی،خدای (ج) دې وکړی چی دغه ورونه په خپل ورسپارل شوی مسؤلیت کی موفق شی.

له مولوی صاحب عبدالوارث وروسته استاد سیاف دمؤقت حکومت صدراعظم ته دعوت ورکړشو چی حاضرینو ته خپله وینا واوروي، استاد سیاف له حمد اوسلام نه وروسته وویل :
زما دعقیدی ورونو !
زموږجهادسره له دې چی روس مو له وطن نه شړلی خوترهغه وخته پوری نیمګړی اوبی نتیجی دی ترڅو پوری چی په افغانستان کی دیونیم ملیونو شهیدانو له آرزو سره سم اسلامی حکومت نه وي جوړشوی ترهغه وخته دغه قربانۍ اودغه فداکارۍ ټولی نیمګړی دی .
ورونو ! روسانوزموږهیواد په تیښته پرېښود خومزدوررژیم تراوسه پاتی دی ، زموږجهادیو عبادت دی نودعبادت په صف کی له مسلمان نه پرته بل څوك

حضرت صاحب وویل چی مورته چي کوم مسولیت راسپارل شوی ؤ،ومو نشو کولی چی دهغی له عهدی څخه ووزو اودا کفایت مونه درلود ، دغه دانتخاباتو دهیئت نظار ورونه به ځي ترڅو با کفایته ورونه له ملت نه انتخاب کړي او هغوي بیا ددی ملت لپاره با کفایته حکومت اومشر وټاکي .

چی ددغی شوری غړی به تردری زرو تنو پورې وی اوبیا به دولسوالی له لسو تنو نه یوکس دعالی اسلامی شورا لپاره ټاکل کیږی اونوربه بیرته هیوادته ځی . البته ددوی

مخصوصه لهجه دشورئ جوړیدو اودراتلونکي حکومت په باب ډوخوشبینانه خبرې وکړې .
له قاضی وقاد وروسته مولوی عبدالوارث دحزب اسلامی

نشو پرېښودی.
استادسیاف له مزدور رژیم سره په پټو تماسونو دتبصری په ترڅ کی وویل چی زموږدملت اوزموږدجهاد طرحه چې ټولو تنظیمونو لاسلیك کړی همدغه

دانتخاباتو طرحه ده له دی نه بله لاره چې څوك لټوی یا دکابل له مزدوراومرتد رژیم سره اړیکی ټینګوی اونورې
پټې لاری تعقیبوی هغه زموږدجهاد اومجاهد ملت له روحیی غوښتنو اومنافعو سره مخالفت اوله ملت اوجهاد سره خیانت دی .
استاد وویل چی له مرتدینو اوزندیقیانو سره زموږناسته ولاړه اوپه یوه ځای راټولیدل داسلام په حکم حرام دی .
وروسته له دې مولوی صاحب محمد نبی محمدی ته وارورسید هغه وویل :
ورونو! موږکوم کار چی اوس پیل کړی هغه مو باید ډیر دوخته سرته رسولی وای خودانتخاباتو په لاره کی اوس هم مشکلات دی اوپخواهم ووخدای (ج) دی هیئت نظار ته توفیق ورکړي چی دغه مشکلات اسانه اودوی بیرته موفق راستانه شی .
وروسته بیا دشوری ائتلاف اسلامی له ویاند تقدسی نه غوښتنه وشوه چی په لنډوټکو کی څه ووایي.ښاغلی تقدسی وویل چی زموږملت اوس دتصمیم نیولو ښه توان اوصلاحیت لری اومورته له بهرنه دتصمیم نیولو ضرورت نشته ، غونډه دیولسو بجو په شا وخوا کی پای ته ورسیده بیا دمیډیا لخوا یو مطبوعاتی کنفرانس جوړشو اوله خبریالانو نه غوښتنه وشوه چی هلته ولاړشی ، خبری کنفرانس ته هم استاد سیاف لنډه شانته وینا وکړه چی دوررو «کریاب» لخوا په

انګلیسی ترجمه کیدله ، استاد سیاف یوځل بیا وویل چی دغه طرحه اودغه انتخاباتو پروسه دمجاهدینوپه اتفاق سره ترعمل
لاندی نیول کیږي نو له ملګرو ملتونوظاهرخان اونوروهغوکسانونه چی زموږلپاره نورې طرحی وړاندې کوی موږغوښتنه کوو چی زموږددغی طرحی ترشا ودریږی اوکه یې څوك مخالفت کوی بیله زیان نه به بل څه په لاس ورنشی .
یوخبریال له استاد سیاف نه دجناب حضرت صاحب اوګیلانی صاحب له نجیب سره دلیدوپه باب پوښتنه وکړه استاد وویل چی داپوښتنه باید له هغوی نه وشی ، یوه خبریال وویل چی معتبر منابع ددغه لیدنو کتنو تائید کوی ، سیاف وویل چی حضرت خودغه خبره

ردوی چې ګیلانی صاحب راغی بیا به پوښتنه تری وکړو.
وروسته بیامطبوعاتی
کنفرانس جریان وموند اودخبریالانو دپوښتنومخی ته ډاکتر صاحب فاروق اعظم کیناست خودمطبوعاتی کنفرانسونو ددود اوطریقی پر خلاف هغه دپښتو اوفارسی پوښتنو ځوابونه هم په انګلیسی ورکول.
دپیښوردپښتو اوفارسی نشر- یو زیاتره خبریالان اومسؤلین چی متأسفانه په دغه مقدسه (؟!)ژبه نه پوهیدل تشی ځولۍ له کنفرانس نه ستانه شول لکه چی دغه کنفرانس یوازی دخارجی خبریالانولپاره ؤ اوهغه هم دلومړی ځل لپاره دهغوی په خپله ژبه .

تشویش از ...

راههای دررابطه به کمك عاجل به اطفال مستحق به سطح جهان جستجو گردد .
دراعلامیه امده است که عده بیشماراطفال بصورت دوامداردرمعرض موانع ودشواریها چون جنگ، تشدد وتعصبات نژادی ، تجاوزات واشغال خارجی ، هجرت وبی خانمانی قرارمیگیرند که درنتیجه اطفال بصورت معیوب ویا نیمه معیوب به جامعه تقدیم می گردند .
ملیونها طفل به رنج فقر وبیچاره گی اقتصادی وامراض مهلك دچارمیباشند وهرسال درحدود نیم ملیون مادران به اثر امراض ولادی تلف می شوند .
دراعلامیه کنفرانس خاطر نشان گردیده است که باید ازوضع بهتر موجود جهانی بخاطر بهبودی وضع مادی ومعنوی اطفال استفاده صورت گیرد ودرجهت فراهمی امکانات صحی تعلیمی وغذایی اطفال گامهای مثمر ازطرف دول برداشته شود .
اشتراك کنندګان کنفرانس همچنان ازموسسات ملل متحد وموسسات خیریه محلی وبین المللی وغیر حکومتی خواستارشدند تابه رفاه وسعادت اطفال توجه بیشتر مبذول دارند

ټوکي ټکالې

زوي مور ته وویل : موري ! زما نوم په اخبارواومجلوکي راځي .
مورځواب ورکړ : ماویلي ؤ چي ته به زمونږ دټولو نوم روښانه کړي ښه ! اوس ووایه چي ستا نوم په څه سبب مجلو او اخبارو کي راځي ؟
زوي ځواب ورکړ : دهیواد نفوس (۱۷) ملیونه دي روښانه دي چي زه هم په دي کي شامل یم اوداتل په اخبار وکي راځي .

مه کړوه !

اسدالله حنیفي"

کړه پاکي ورته اوښکي یتیمان مه کړوه
په سر یې لاس راکاږه کمکلیان مه کړوه
ظالمه ! د مظلوم د زړه له آه نه ویره وکړه
ړک جام به دي نسکورشي مظلومان مه کړوه
دکونډو ،بورو ورارو په حالت دي رحم نشته
زړه سواندی شه ظالمه ! عاجزان مه کړوه
دجبر په بتي کي چي انسان کباب ول کړي
طاغوت د شرق اوغربه جهانیان مه کړوه
چي وران دي کړه کورونه د مظلوموافغانانو
روسیه نوریي پریږده افغانان مه کړوه
دکویت په ناز ولو دي لې حده ظلم وکه
صدامه ،، زړه دي مات شه عربان مه کړوه
ډیلي کي ورته ناست یې په کشمیر کوي بریدونه
دد نګو- دنګوغرونو کشمیریان مه کړوه

دجهاد خاطري

جمعه دین جهدی

دمابیرسي پرتیار روا امیدونو پوري

مور دسایسته وطن دسمسورو درو ،خوګړنګونو او شوخو ګلبڼونو نه نوی نوی دهجرت دیارته پښه رااړولی وه دلته دهر چا دخیال دنیا ګډه وډه شوی وه ،هر یو دپردیسی ښپیړی وهلی ؤ او دټو لو دزړونو بهارونه دبیلتون او هجران خزانونو ځپلی وو،
په زړونو دوطن کور او کلی یادونو تناکی جوړی کړی وی او دلوی ناموس ،قران، دین او وطن له غمه ټول داندیښنو په تالونو زنګیدل.
دهیڅا په زړه کی نه تیریدل چی بیا به هم په خپل وطن ګران افغانستان کی سرلوړی ګرځو، بیا به هم کلی او کور وینو او یو ځل بیا به مو هم سترګی په هغو رو ګودر لګیری چی پکی لوبیدلی رغړیدلی او اوسیدلی یو دوطن یاد دروح سوهان ؤ ،د بی دینو واکدارای پری دپاسه غم او بیا ددین او ناموس دساتنی رسالت او مسؤلیت پر هغه دپاسه له زغم او توان نه وتلی ستر غم .
مور دبیرسکو په حویلی کی وو، شاوخوا همداسی غم لړلی او ماتم ځپلی خیری وی ، هر مخ ته دی چی کتل دوی سترګی به پکی غړیدی او په دغو سترګو کی بی دریغه نا امید ی ،په هر تندی د مظلومیت او بی وسی مهر لګیدلی ؤ،
له هرزړه نه غم له سترګونم اوله تندی ماتم ننځیده ، فضا ټوله ماتم ماتم وه اومورنورخپل تقدیر دهمدغه غمونواوماتمونوتوند بهیرته سپارلی ؤ.
ماته نوی نوی دکورکلی ، خپلو خپلوانوسودا رالوېدلی وه په ذهن کی (۵)مع کی

ويني

شفیقي

زه خو شهید یم قربان شوی یمه
د ستر حسین په لاره تللی یمه
بدن مي پاتې دی په نوړ و خاورو
ارواه مي والوته دعرش پلوري !!
زه خوشهید یمه نیکرغه یمه
دخدای رحمت په خپله پاکه غېږکې
په مینه - مینه کلك نیولی یمه
او وینې مي تويي شولې
څاڅکی ، څاڅکی
خو!
چاته څېې شولې ، در یاب شولې
او چاته !
مزې شولې شراب شولې

ترڅو؟

سعید رهبر

آخر ترڅو به دومره جبر کیږي
زما کشمیر به په لړزان وي ترڅو
دغلیمانو د هوس د زوره
وران به د میني داجهان وي ترڅو
بې نوایي به وي ترکومه پورې
دلته د ژوند د تحریکونو په لار
دا توري شپې به وي برهې ترڅو
د روڼ سحر د تکلونو په لار
دا بې وسی به انبار بې ترڅو
ګهړې ګهړې زمونږ په زړونو باندې
د ناکامی افسون به خوروي ترڅو
دلته زمونږ په نظرونو باندې
راج به ترڅو دخاموشی وي آخر
د زمریانو په وطن کښې دلته
نوم د ړنا به ترڅو جرم ښکاري
د پتنګانو په مسکن کښې دلته
دا فضا کاڼې به ترکومه پورې
دیو محبوب حسن رنګونه لري
دا خوږه خاوره به ترکومه وخته
د تریخ ژوندون تراخه یادونه لري
دا کاروانونه به د زړونو ترڅو
د مایوسی په پړاوونو کښې وي
داپاکې میني به ترکومه حده
د بېلتانه پاکولاسونو کښې وي
څکه د میني په خاطر ملګرو
ای د ښکلا د دې وطن وګړو
ای د وفا د رهګذر لاروو
ای دایثار د دنیاګې نوموړو
راځئ چي یو شو څه قوت پیدا کړو
چي دخپل نازدغه کشمیر وګټو
چي د دنیا په جوره زمکه باندې
هر مسلمان ته خپل جاګیر وګټو
چي فلسطین او هم لبنان آزاد کړو چي اسلامي افغانستان آزاد کړو

جهادي ادب

پیغام مې سرحد نه مني جهان لاندي کوي
تکبیر مې پوره ته خیژي ای آسمان لاندي کوي
رالویږي اونړیږي به جوړ شوي معبودان
قیام مي غزنوي شولو بتان لاندي کوي

مسلوره

کړهي خدای خپه
افغانه! تعره ستا منصب دی
دانګور عالم چي لاپ
لا نئي اخلي له غزانه
زما درته سلام دی
چي یوه لحظه
عیسی جنتونه
په قیامت کي
ته په اسلام خپل ځان قربان کړه
الله به درکړي
دخوست ځوانان قهرمانان دی
په بیستوب بل کړل سروونه
دګلم جم
الیو ونکې: سلیم صابر

سپیده آزادی برما تابنده باد
هزاران شهید نثار کرده ایم زنده باد
نام و ننگ وطن بخون خریدیم
این صبح و ترسم امین فرخنده باد

زه مجاهد ځوان یم!

تو ره مي په لاس کي ده معلوم په هرمیدان یمه
زه مجاهد ځوان یمه - زه مجاهد ځوان یمه

توره مي په لاس کي ده له چا نه ویرېږم مه
کړی مي اعلان دی هر ملحد سره جنګېږم مه
ټال کي په سره اور دابراهیمؑ په شان زنګېږم مه
و لاړ مقابلي د هر دښمن ته په ښه شان یمه
زه مجاهد ځوان یمه
زه مجاهد ځوان یمه

تو ره مي په لاس کي د بابا تاریخ ته وګوره،
ته دمیرویس خان او احمد شاه تاریخ ته وګوره!
زه هم د هغو اولاد زما تاریخ ته وګوره !
وایي ،،ګل میرجان،،شاعر په خپل وطن قربان یمه
زه مجاهد ځوان یمه
زه مجاهد ځوان یمه

ګل میرجان

پلچرخي بدترين زندان درنيم كره اسياً غربي...

گزارشگرحقوق بشر ملل متحد علاوه نموده است كه زندانيان ازنظرحكومت كابل تروريست ودهشت افگن شمرده ميشوند وبه قضاياى زندانيان سيا سى هنوز هم در محاكم نظامى رسيده گى ميشود .

وى گفت : نگرانى ما بيشتر درموردكسانى است كه در بازداشتگا ههاى رژيم تحت استنطاق قرار دارند وياقرار ميگيرند كه وضع اين گونه افراد بسيار خراب ميباشد .

ارماكورا افزود : هنوز هم گزارشهاى بدست مى رسد كه دران از ازار واذيت زندانيان حكايت شده است .

نموده به هيچ وجه مطابقت ندارد .

اين مطلب رافليكس ارماكورا گزارشگرخاص ملل متحد براى حقوق بشر ضمن مصاحبه با راديو صداى امريكا ابرازنموده افزوده است : وضع اقتصادى مناطق تحت تسلط حكومت كابل متوازن نبوده ازادى مطبوعات تضمين شده ولى مطبوعات ازاد نه تنها موجود نيست بلكه زمينه ان مساعد نه ميباشد صرف درساحه مطبوعات تحت كنترول حكومت يك يادو روزنامه موجوداست كه عين مضامين را انتشار

زندانيان ازنظرحكومت كابل تروريست ودهشت افگن شمرده ميشوند وبه قضاياى زندانيان سيا سى هنوز هم در محاكم نظامى رسيده گى ميشود .

ميدهند .انهاى كه سعى مى كنند گروه هاى مخالف حكومت راتشكيل دهند مصون نبوده ودرمعرض خطرقرار مى گيرند.

ارماكورا درپاسخ باين سوال كه ايا وى زندانهاى رژيم كابل را ديده است گفت : بلى زندان پلچرخى نه تنها درافغانستان بلكه درنيم كره غربى اسيا از بدترين زندانها ميباشد. وى گفته است گرچه بعضى بهبود-يهاى دروضع زندان مذكور مشاهد ه ميشود اماشرايط زندان باسطح ومعياريكه مادارىم ويامعياريكه مادارىم ويامعياريكه ملل متحد براى زندانهاتعين نموده به هيچ وجه مطابق وهماهنگ نمى با شد .

قانون اساسى جديدخواهان يك نظام سياسى باشركت تمام اقشار وگروههاى جامعه ميشوداما درواقع چنين چيزى موردقبول نميباشد مخالفين حكومت تحت ازاروتحقيق قرارميگيرند واين يك ازاشكال عمده حكومت كابل ميباشد .

فليكس ارماكورا دررابطه به ازادى عقيد ه وبيان دردستگاه رژيم كابل گفت : هيچ گروه سياسى وجودندارد كه بتواند ازازادى (كذايى)كاربگيرد گروه يكه بخواهد با شرايط مغاير مفكوره حزب حاكم عرض وجود نمايد مسلماً مورد خطر قرار خواهد گرفت كه مثال هاى نيز درين رابطه دردست است.

په خليج ...

خوعراق په خوساعتو کی کویټ بشپړ لاندی کړ بیا خودا بنانیدله چی اسلامی نړی اوعربی هیوادونه دعراق په ګډون ددی مسئلی داواری لپاره یوسیاسی حل ته رسیدلی وای

دسعودي عربو اوخليجي نورورياستونوسره دومره اقتصادي توان ؤ چی که یی دخپلو عایداتو شل فیصده دهیواد ددفاع په لاره کی لګولی وای نونن به هیچا دهغوي په لوری کاږه نه شوای کتلی .

اوکه عراق کوم مناسب سیاسی حل ته غاړه نه ایښودلای بیا نو لازمه داوه چی داسلامی نړی اسلامی پوځ جوړشوی وای په سعودی عرب اوپه خلیج کی یی اړولي وای .

اوس هم سره له دی چی حالات ډیر خراب اونازك حالت ته داخل شوي دي خوبیا هم موقع شته چی داسلامي هیوادونو یو کنفرانس راوبلل شي ، دهغې په نتیجه کې دعراق دبرید اودکویټ داشغال نه دامریکایی اولویدیځو پوخونو تروتلو پوری بشپړه طرحه جوړه اوعملي شي .

په لومړي ګام کی باید یوه اسلامي اردو جوړه شي چې دامریکایی اولویدیځو بیګانه پوځونو ځایونه ونیسی بیا به امریکا یی پوځونو ته په سعودی اوخلیج کی دپاتی کیدو هیڅ پلمه نه وی – امریکا غواړی چی په خلیج کی پوځونه ولری اودتل لپاره یی وساتی هغوی غواړی زرترزره دملګروملتونودسازمان ترحمایی اوتائید لاندی پر عراق یرغل وکړی نوبیا ددی څه تضمین کیدای شی چی امریکا عراق ونیسی بیابه یی بیرته پریږدی ، یابه کویټ آزاد حیثیت اوکه داټول وی یوه خبره به خامخا وی اوهغه داچی په خلیج کی به امریکایی قواوی دعربی نړی پر پریمانه شتمنیو پهرې کوي اودغه زرخیزه سیمه به دتل لپاره دامریکا په واك اواختیارکی پاتی شي .

له نجيب يا ظاهرشاه سره هرډول معاهده دافغانستان ...

دپاکستان دجماعت اسلامي امیر سناتورقاضي حسین احمد په یو بیان کي ویلي دي چي داخبره ډیره عجیبه بریښي چي کله هم دافغاني مجاهدینو هلي ځلي دبري په درشل کي ورننوزي نوبیا ځیني بهرني ځواکونه ددغه جهاد دبري مخنیوي کوي اورنګارنګ دسیسي جوړوي چي دجینوا معاهده دهمدغو دسیسو یوه کړۍ وه اوس دمجاهدینو ددوو سترو ګوندونو (حزب اسلامي ، جمعیت اسلامي) ترمنځ داتحاد اویووالي دفضا رامنځ ته کیدو له امله یو ځل بیا دبري نښي نښاني ځرګندي شوي یو ځل بیا روس اوامریکا په نوي مانورو اونوي دسیسو پیل کړي دافغانستان دمسٔلي دسیاسي حل په نوم دظاهرشاه نجیب اوځو کوچنیو بي تأثیرو ډلو ترمنځ دمصنوعي یووالي بیځایه زیارباسي دنجیب وروستي سفرونه اوپه مشهد کي دځنیو طرفونو سره لیدني کتني هم دهمدغو دسیسو یوه کړۍ ده چي موږوربانـدي اندیښمن یو.

❀❀❀❀❀❀

دامنيت شورا غړو دعراق په ...

دولسو هیوادونو مثبته رایه ، دووهیوادونو (یمن اوکیوبا) مستنکفه رایه او یوه هیواد (چین) منفی رایه ورکړی ده دعراق جمهوررئیس صدام حسین دامنیت شورا ددی پریکړی کومه پروانده کړی اوپه خپل دریځ کی یی هیڅ بدلون ندی راوستی .

•••

دمايوسي پر...

می دغریوه حبره رایادوله ماته خپل خپلوان اودکورکلی چم ګاونډیه چی دخپلی سیمی ډیری بی خونده اوسپیری برخی هم رایادیدی هغه چی پخوا به په یوه تراټ تری تیریدم اونه می خوښیدی نن یی په هجران دومره ځوریدم لکه دجنت په باغچو پسی مایه تصورکی له خپل وطن ، سیمی خپلو خپلوانو اودوستانو نه دتل لپاره خدای (ج) پامانی اخیسته اودادی زړه په کلکه لویدلی وه چی نوربه می سترګی دهغوبه دیدن پخی نکړای شم .

په زړه رنګ بایللی حویلی کی ډیر هیروبارنه ؤ بیا به هم بنه شیبه پس نوی نوی کسان راتلل اوله موږسره به یی روغبړ کاوه ، موږتول اوس دیوی کورنۍ غړی وو ، له ټولو سره یوغم اومشترك دردؤ نو ځکه هو تر منځ ډیرزردبیلتون اوناپیژندګلوی دیوالونه پریوتل ، خو داجوته وه چی دهرنوی کس په لیدو به ددواړو غواوپر پر هرونو نوی مالګی دوړیدی ،دلته چی خوك راتلل نو دغمازانو کیسی بی راوړی دی دمحبت ، سلامتی اوسولی بناپیرۍ بی دظلمت دیوانوتښتولی وی ، په دی نوی اباد کلی اوښارګی کی چا دخوشحالی کیسی نه کولی اونه چا دتسکین اوارام سندره زمزمه کولي شواي نوځکه هو موږ نورځانونه دهغو نوم ورکوبی وطنو په ډله کی شمیرل چی په ژوند اومرګ به یی اسمان شاهد وی خودتاریخ په زړه کی به یی دیاد اونامه پته اودرك نه وی .

دهجرت اوپردیسی پر دسترخوان یوازی ویراوغم پروت ؤ او په زړونوخیالونو لوي ناموس اووطن اندیښنو منګولی ښخی کړی وی یو ځل دغه رنګ بایللی حویلی ته زموږیه شان دری ځلورتنه نورراغلل داسی ښکاریدله چی هغوی زموږترمخه دهجرت ددسترخوان میلمانه وو ، یوه تن په مشرقی واله لهجه له موږسره ترسترګی مشو وروسته دراتګ اووطن دحالاتو په باب توده پوښتنه وکړه داچی موږیه دهغه په درد من اوپر هر زړه څومره داغونه لګولی وی پر خپل ځای خو غجیبه داوه چی په یوه ناتوانه بدن اوتك تورلمرونوسوځولی وچ کلك بی وسیو ځپلی تندی کی موبل ډول اشاری ترسترګو کیدی داسی چی زموږپرخیالونو اوسوچونو یودم حیرانی اوتعجب قبضه وکړه هغی دځه غم اوماتم خبری نه کولی اونه یی څه آه اوافسوس ترخوله وتل موږیه رنښسترګو ورته کتل اودلومړی ځل لپاره موله یوی خولی نه دجهاداوقیام زیری اوریدل ، هغه ویل :

پړی ورځو به له خیره ، یابه وطن له کفارونه ګټو اویا به پری شهیدان شو په همدغو څو کلمو کی دومره اخلاص ، ځوښ. اوجذبات پټ ووچی زموږدزړونو دنیا ګانی یی ولړزولی زموږیه زړونو کی دقیام اوانتقام جذبی داسی راویښی شوی لکه دکونړمست سیند چی په کړوورو ګړنګونو کی پر مخ روان دی اودژوندانه اوخوځښت ترانی وایی .

موږځانونه دهیواد په دنګوغرونواوسمسورو سردرو کی لیدل چی روان وو اودکمونیزم دماتی اوناهودۍ وروستی ننداره وینو ، دهغه دشونډو هرټکی اوهره کلمه یوه یوه سپرغۍ شوه چی په ډیرو دناامیدی تیارو قبضه کړې یو زړونوکی یی دامید ډیوی بلی کړی .

●

خوك چی په ځان حاکم نه وی هغه به تل مریی وی .

●

د هغه چا له شره ځان وساته چی تا ورسره ښیګړه کړی وی .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني له فرهنګي مسوولينو سره په ځانګړي مرکه کې:

څرګندیږي چې دحضرت محمد (ص) په زمانه کی داسلام دښمنانو چی له یوې خوا یی مستقیماً دمقاومت اومقابلی له لاری داسلام دخپراوی په لار کی خنډونه رامخی ته کول نوله بلې خوایی داهڅه کوله چی دناوړه تبلیغاتو له لاری داسلام دخپراوی په مخکی خنډونه رامخې ته کړی اوداسلام دسترپیغمبر شخصیت منفورکړی .

دهغوی مبلغینو به دخلکو ترمنځ داسلام پر ضد ناوړه تبلیغات کول، داسلام ستر پیغمبر به یې کله ساحر اوکله شاعر اوحتی کله به یی دلیونی په نوم یاداوه اودقرآنکریم آیاتونه به یی دده جوړی شوی خبرې ګڼلی اودهغوی شاعرانو به په خپلو شعرونو کی دحضرت محمد (ص) دسپیڅلی شخصیت غندنه کوله .

داسلام دښمنانو ددغه ناوړه تبلیغاتو اوپروپاګندونو دبی اغیزې کولو اوبی اثره کولو لپاره ددې ضرورت احساس شو چی دتبلیغ له لارې دهغوی ځواب وویل شی .

داسلام دستر پیغمبر په اصحابو کی داسی کسان وو چی دتبلیغ ، خطابو او شعرونو له لارې یی دهغوی تبلیغات اوپرو پاګندونه بې اغیزی کړل.

حسان بن ثابت اوعبدالله بن رواحه هغه شاعران وو چی پخپلو شعرونویی داسلام دښمنانو دتبلیغاتو ځواب ووایه داسلام دستر پیغمبر داوصافو اواخلاقو په ستاینه کی یې شعرونه وویل اوداسلام دحقی لاری دسر ښندنی، شجاعت ، میړانی ، قهرمانۍاوحماسې یی په اشعاروکی ستایلی .

دموته، په غزاکی چی دمسلمانانو شمیر لږ ؤ د(۳۰۰۰) په شا وخوا کی ؤ اوپه مقابل کی دکفاروپوځ دیو لک تنو شا وخوا کی ؤ ، نودکفارو اومنافقینودهڅډول تبلیغاتو په اساس دمسلمانانو له جملی څخه ځنی ددې لپاره پښیمانه شول چی دکفارو شمیر زیات اومونږکم یو زورمونه ورسره رسیږی ، نونژدې ؤ چی بیرته ستانه شی ، هماغه ؤ چی عبدالله بن رواحه چی ډیره فصیحه اوبلیغه ژبه یی درلوده دتبلیغ له لاری چی په هغه کی یی دمسلمانانو دمیړانی اوشجاعت کارنامې بیان کړې، وکولی شول چې ددوی احساسات راوپاروي هماغه و چی ټولو په غزا کی ګډون وکړ اودخدای (ج) په نصرت سره هماغولږو مسلمانانو ډیرو کفاروته شکست ورکړ اوفتحه یی په نصیب شوه .

ورونو! نن چې تاسی دکوم فرهنګي جهاد په نیت ملاتړلی ده داهم دهغه جهاد یوه برخه ده چی زموږ مؤمن ملت دکفر اوالحاد پر ضد پیل کړی که دسنګرمجاهدین دجنګ پر وسلو اووسیلو ددښمن مقابله کوی تاسی دښمن دتبلیغاتو دخنثی کولو اودهغی دناولی څیرې درسوا کولواو دهغه دپوچې مفکورې دماهیت دڅیړلو اوافشاء کولو پسې قلم راخیستی دی ،دجهاد دداړو سنګرونو مجاهدین ددښمن دمغلوبولو لپاره یوشان مسوولیتونه لری .

تاسی که ددښمن دتبلیغاتو دخنثی کولواوبې‌تاثیره کولو لپاره څه لیکی اوکه دسنګر دمجاهدینو قهرمانۍ اوجهادی کارنامې ثبتوی اوخپروئ ،که داسلام دمقدس دین داحکامو دخپراوی له لاری دخلکو ذهنونه روښانوی اوکه پخپلو لیکنو اوخپرونوکی خلك خپلو بدبختیو ته متوجه کوئ اوکه دوست اودښمن ورته په ګوته کوئ اوکه خلکو ته دوحدت اواسلامی ورورولئ پیغامونه رسوئ او...داټول مو خدای (ج) په جهاد اوعبادت کی حسابوی اواجراوثواب درکوي .

ورونو! همداتاسې دفرهنګی سنګر مجاهدین یاست چی دمجاهدینو کارنامې له هیرولو څخه ساتی ، پخپلو خپرونو اونشراتو کی یې خوندی کوئ اوراتلونکو نسلونو ته یې پرېږدی.دمجاهدینو له کارنامو څخه دنړۍ په ګوټ-ګوټ کی خلك خبروئ.دافغانستان مؤمن ملت غږدنړیوالو غوږونو ته رسوئ .

ورونو! همداتاسې دفرهنګي سنګر مجاهدین یاست چي دمجاهدینو کارنامي له هیرولو څخه ساتئ ، پخپلو خپرونو اونشراتو کی یی خوندي کوئ اوراتلونکو نسلونو ته يي پرېږدئ دمجاهدینو له کارنامو څخه دنړۍ په ګوټ ګوټ کی خلك خبروئ دافغانستان دمؤمن ملت غږدنړیوالو غوږونو ته رسوئ.

تراوسه چې دفرهنګی جهاد په سنګر کی کوم کارونه شوی هغه دزیاتې ستاینې اویادونې وړدی ، خوله دې سره-سره بیا هم باید یوازې په همدغه اوهمدومره کاراکتفاء ونشی ، دامکاناتو په حدود کی باید دفرهنګی چارو دښه والی لپاره زیاتې هلی ځلی وشي ، په دغه لړکی ستاسی مسوولیتونه اومکلفیتونه ډیر درانه دی اوستاسی نه ستړی کیدونکی کاراوهلی ځلی غواړي .

ورونو ! زه یوه خبره بیا هم کوم هغه دا چې که زماعکس دتشهیر لپاره خپروئ نوداکار مه کوئ ، زه یې تاسو ته حرام بولم خوکه دکوم جهادی خدمت اوخبر لپاره وي چی نیت مودجهاد تقویه وي بیا نوزه تردید نه لرم.په پای کی دلوی خدای (ج) په دربارکی تاسی دفرهنګی جهاد مجاهدینو ته دلازیاتو بریالیتوبونو دتوفیق دعا کو م،

په خلیج کې دجګړې دپیښیدو خطر اودهغې ناوړه نتیجې

دمسلمانانو اوپه ځانګړی ډول دعربی نړی یوه لویه بدمرغی داده چی هغوی هیڅکله هم داتحاد اویووالی په تغر نه دی راټول شوی - کله چی کومه ربړه پیښیږی مسلمانان په یووالی اواتحاددهغی دحل لپاره اقدام نه کوی - اوس چی پر کویټ عراق یرغل کړی نوټوله نړۍاوبیا په خاص ډول دعربی نړۍ هیوادونه ددغه تیری په لمبو کی ډاړه شوه .

پر خلاف داسرائیلو هرراز پوځی اومالی ملاتړ کوی - پر کویټ دعراق له یرغل نه وروسته ټول لویدیځ اوخصوصاً امریکا دعراق پرخلاف زبردست تبلیغات پیل کړی چی ټوله دنیا اوبیا عربی نړۍ جوړولو پلمه لټوله له دغه زرین چانس نه ګټه واخستله اوزرترزره یی په زرګونو پوځیان په خپلو وژونکووسلوسنبال سعودی اوخلیج ته واستولی.

سعودی عرب که نن نه وی نوسبا به خامخا دخپلی دغی غلطۍ احساس کوی څکه کوم هیوادچی بل هیواد ته خپل پوځونه ولیږی هغه بیا ترهغه وخته پوری بیرته نه راغواړی ترڅو یی خپل مرام نه وی ترسره کړی .

سعودي عرب که نن نه وي نوسبا به خامخا دخپلی دغی غلطۍ احساس کوي څکه کوم هیوادچي بل هیواد ته خپل پوځونه ولیږي هغه بیا ترهغه وختِه پوري بیرته نه راغواړي ترڅو یی خپل مرام نه وي ترسره کړی .

پر افغانستان دروس دیرغل مثال زموږیه مخکی دی که میړنیو افغانانو دتوری په زورروسان نه وای شړلی روسان به تراوسه هلته میشته وو اود افغانستان له سرشاره ذخیرو به یی استفادی کولی همدارنګه هندوستان چی په سیمه کی کوم سپر پاور«زبر ځواك»هم نه شمیرل کیږی خوسریلانکا په سهوه سره دهغوی پوځونه ورروغوښتل خودسریلانکا بیا بیا اصرارسره سره هندی پوځونه هغه وخت له هغه هیواده بیرته ووتل چی په خپله یی زړه وغوښتل .

پر کویټ دعراق قبضه دعربو اواسلامی نړۍ خپله مسئله وه ، په دی کی دبل نامسلمان هیواد راشریکول مناسب نه وو ، لومړی خوسعودی عرب باید دخپل هیواد لپاره په خپله دفاعی قوت درلودای خودعربو بدمرغی داده چی اسرائیلو غوندی قوی اوظالم دښمن دموجودیت په صورت کی هم دوی خپل جګړه ایز او دفاعی قوت نه دی ځواکمن کړی حال داچی دسعودی عربو اوخلیجی نوروریاستونوسره دومره اقتصادی توان ؤ چی که یی دخپلو عایداتو شل فیصده دهیواد ددفاع په لاره کی لګولی وای نونن به هیچا دهغوی په لوری کاره نه شوای کتلی . پرکویټ دعراق له یرغل نه یوه خبره پوره روښانه شوه اوهغه داچی ددغو هیوادونو دفاعی اوپوځی قوتونه زیات کمزوری دی که کویټ مزبوت دفاعی قوت درلودای لومړی خوعراق پر کویټ دیرغل ټمه نه کوله اوبیا خودڅو ساعتو په اوږدوکی هیڅکله هم کویټ دعراق په مقابل کی نه بی وسه کیده ،

۵۱ مخ کی

امریکا چی دمسلمانانوستردښمن دی او دمسلمانانو دلاندی کولو لپاره هیڅ موقع له لاسه نه ورکوی اوس یی له ځانه دمسلمانانو ستر غمخورجوړکړی حال داچی له لومړی ورځی نه ترننه دعربو دهمدغو پروپاګندوتراغیزی لاندی راغلی - څکه سعودی عربستان دخپل هیوادد دفاع ترنامه لاندی دامریکایی پوځونو مرسته وغوښتله ، امریکا چی هسی په خلیج اوسیمه کی دخپلو پوځی هډو

په خلیج کې جګړې ته تیار یوه ډله پوځیان

مسئله امنیت وهمکاری دراروپای ...

شرقی که تحت نام کشورهای پکت وارسا محکوم مسکو بودند فضای سیاسی اروپا بشکل غیر قابل باوردیگرگون گردید مردمان کشورهای مذکوربعدازشکست نظامی روسها درافغانستان به پوچ بودن ماشین نظامی ابرقدرت روس ملتفت شد ه درپی براندازی رژیمهای نصب شده ازجانب مسکو گردیدند .

اکنون که بخش شرقی اروپا ازلوث کمونیزم پاک گردیده ومانع بزرگ درنزدیکی روابط کشورها ومردمان شرق وغرب اروپا ازمیان رفته است زمینه های خوب برای انکشاف روابط ذات البینی بمیان امده است .

درین لحظات که دراروپا فعالیت های گسترده وجدی بخاطر ایجاد اروپا ی یکپارچه واحد جریان دارد کنفرانس امنیت وهمکاری پاریس ارزش خاص خودراداشته واشتراک کنندگان باتبارزاتفاق نظربا مواد منشورپاریس اماده گی خود رادرین سمت نشان دادند .

رئیس جمهورفرانسه وسایر رهبران کشورهای مذکوروضع وجریانات فعلی اروپا رالحظات امید بخش بخاطر ایجاد فضای کاملاً مطمین برای زیستن درصلح وتفاهم ودوستی توصیف کردند .

درین کنفرانس کشورهای اروپای شرقی که اخیراً ازیوغ کمونیزم وتسلط کرملین رهایی یافته اند وجدیداً به دموکراسی برگشته وسیستم بازارازاد رازمایش می کنند خواستارهمکاری اقتصادی بیشتر کشورهای بخش غربی اروپا شدند .کشورهای بخش غربی اروپا ازنگاه اقتصاد دروضع عالی قرارداشته ومیتوانند امکانات وقروض رابدسترس کشورهای ازادشده ازکمونیزم بگذارند کشورهای مذکوربیم ازان دارند که درصورت عدم همکاری اقتصادی کشورهای غربی ازکاروان تکاملی اروپا عقب خواهندماند .

درکشورهای اروپای شرقی قبلاً تمام امکانات مادی ومعنوی توسط رژیم های کمونستی طبق دستورکرملین کوبیده شده ونتیجتاً این کشورهاازنگاه صنعت وپیشرفت علمی ازکشورهای اروپای غربی عقب مانده اند .

مسکواین کشورها راتحت پوشش نظامی خود قرارداده تمام امکانات ترقیاتی شانرا محدود ویا نظامی ساخته بود . اکنون که رژیم های کمونستی دراروپای شرقی یکی بعد دیگر نابود گشته اند امکانات وزمینه های موجود سربلند می کنند رشد می یابند لذا این امر برای اروپای غربی نیزهم ازنگاه اقتصادی وهم ازنگاه سیاسی حایز اهمیت فراوان میباشد که به اقتصادشکسته وریخته اروپای شرقی شانه نیرومند دهد .

دفلسطینیانو پرخلاف دامریکا ...

نړیوال خبر کړي ، په دننه کې اسرائیل دې ته مجبورکړي چې دهغوی حقوق بیرته وربانډې وسپاري .

نن سبا په منځنی ختیځ کی یو ځل بیادفلسطین دمسئلې په رابطه نوی هڅې پیل شوی دی دلته اوس دانتفاضه غورځنګ اودفلسطین دآزادی غورځنګ دیاسر عرفات په مشری هم دراتلونکی فلسطین دجوړیدوپر طرحه اختلاف لری دانتفاضه غورځنګ زیاتره غړی دټول فلسطین دبشپړی خپلواکی غوښتونکی دی اویاسر عرفات بیا دحل لاری لپاره داسی طرحه وړاندی کوی چی داردن دسیند په لویدیځه غاړه اوغزه کی دی دوه خپلواک فلسطینی ریاستونه جوړشی اودفلسطین دآزادی سازمان ته دی اجازه ورکول شی چی هلته خپل آزادریاستونه جوړکړی یاسرعرفات له دی نه په کم څه باندی رضایت نه لری .

داسرائیلو طرحه : دفلسطین دآزادی غورځنګ په مقابل کی داسرائیلو طرحه بیا داسی ده چی لومړی : یادی فلسطینیانوته محدوده خپلواکی ورکړه شی چی هغوی په غزه اواردن دسیند په غاړه کی داسرائیلو حکومت ترسر پرستی اونظارت لاندی دخپلی خوښی محلی اداری جوړی کړی خو په بهرنی سیاست کی به داسرائیلو دمرکزی حکومت تراثر لاندی وی .

دوهم : یادی داردن دسیند لویدیځی غاړی فلسطینی اوسیدونکی له اردن سره په یو ګډ « فدریشن »حکومت کی شریک شی ځکه بیا به دفلسطینیانو دآرام ساتلو اوقابو کولوذمه وارشاحسین وی ځکه داردن شاه حسین له اسرائیلو سره دښو اړیکو غوښتونکی دی ددی خبری ثبوت هم دادی چی په ۱۹۶۷او۱۹۷۳کالو کی دعربو اواسرائیلو ترمنځ جګړو کی شاه حسین څو څو ځلی له اسرائیلی واکمنو سره لیده کاته کړی له دی نه پرته په ۱۹۸۷م کی هم شاحسین په لندن کی داسرائیلو له صدراعظم «شمعون پریز» سره وکتل ، او په منځنی ختیځ کی بی دسولی راوستلو په باب خبری اتری وکړی .

دامریکایي حکومت لخوا په اسرائیلي اخبارونو او نشریاتو کي داسي خپروني کیږي چي دنیول شویو ځمکو فلسطینیان دي ته وهڅوي چي امریکا ته ولاړ شي اوهلته میشته شي

اسرائیلی یهودیان عقیده لری چی شاه حسین دفلسطینیانو سره دلاس گریوان کیدو ښه تجربه لری هغه په اردن کی په ۱۹۷۰ په ستمبر کی هم دفلسطین مهاجرین او مجاهدین په پراخه پیمانه ووژل

په ۱۹۵۰او ۱۹۶۷کلونو ترمنځ هم شاه حسین دفلسطینیانو مبارزځواکونه ښه وځپل په ۱۹۵۰م کی داردن دهغه وخت پاچا عبدالله یو سر کاری اعلان وکړ چی پکی ویل شوی وو چی په اردن کی له ټولو دفترونو اودوسیو نه دفلسطین نوم پاک کړی ددغی دلایلو په وجه اسرائیل فکر کوی چی دفلسطین په مسئله کی شاه حسین ددوی ښه ملاتړکولی شی شاه حسین په دی وجه هم له اسرائیلوسره دنیکو اړیکو غوښتونکی دی چی داردن دسیند په ختیځه خواکی په سلو کی « ۶۵ »فلسطینیان دی که داردن سیند په لویدیځه غاړه فلسطینی آزادریاست جوړیږی نوهغه فلسطینیان اردن ته دردسر جوړوی ، خو دفلسطین دآزادی غورځنګ داسرائیلو دغه طرحه بشپړه ردوی ، هغوی وایی چی له اردن سره فدریشن نه کنفدریشن حکومت جوړولای شی «یعنی دجلاملکو په خپرډګوهمکاریو اتحادیه » جوړولی شی خوفلسطینیان داردن دهیواد برخه اوجزنشی کولی .

داسرائیلو له دغی طرحی نه پرته دبین المللی صهیونیزم اداری یوه بله خطر ناکه طرحه جوړه کړی چی فلسطینیانو ته افشأ شویده هغه داسی ده چی :

۱: روسی یهودیان په نیول شویو ځمکو کی په توندۍسره میشته کول .

۲:فلسطینیان په زورسره داردن دسیند له لویدیځی غاړی نه دسیند ختیځی غاړی اوغزه ته شړل .

روسي حکومت یهودیانوته اجازه ورکړي چي زرترزره اسرائیلو ته ولاړشي اوهلته میشته شي دهغودمیشته کولو لپاره دلګښت اواقتصادي ستونزو درفع کولو ذمه دامریکا په غاړه ده.

ددی طرحی په لومړی برخه ډیر ګوندی کاروان دی امریکا اوروس په کلکه داسرائیلو ترشا ولاړدی روسی حکومت یهودیانوته اجازه ورکړی چی زرترزره اسرائیلو ته ولاړشی اوهلته میشته شی دهغودمیشته کولو لپاره دلګښت اواقتصادی ستونزو درفع کولو ذمه دامریکا په غاړه ده . ددوی اصلی طرحه داسی ده چی فلسطینیان له خپلو مځکو نه شړی پر ځای به یی روسی یهودیان میشته کیږی .

ددی طرحی دوهمه مرحله داسی ده چی بیا به داردن دسیند دلویدیځی غاړی فلسطینیان اردن ته اودغزه دسیمی به مصر ته په زورشړل کیږی اودغه سیمی به دفلسطین دخاوری اوحق مسئله دتل لپاره ختمه کړی .

اسرائیلی واکمن وایی چی اصلی فلسطین اردن دی نو فلسطینیانوته ښایی چی په اردن کی خپل حکومت جوړکړی په دی ډول دوی غواړی په عربو کی نفاق واچوی اوپه منځنی ختیځ کی یوی نوی جګړی ته مخه خلاصه کړی ترڅو داسرائیلو دنیول شویوځمکو نه داسرائیلو دوتلو پر عربی طرحه دبطلان کرښه راکاږی . که اسرائیل په دی پلان بریالی شی نوداردن اوفلسطینیانو ترمنځ به جګړه ونښلی اوګټه به یی اسرائیل اوامریکا پورته کوی .

د امریکا پالیسی :

امریکا له یوی خوا له اسرائیلو سره بشپړی مرستی کوی ترڅو له هغی نه یونه ماتیدونکی ځواک جوړشی اودتل لپاره پر عربو فشاراواچولی شی له بلی پلوه امریکی حکومت دپورتنی اسرائیلی طرحی دکامیابی لپاره یوه نوی پالیسی غوره کړی .

دامریکایی حکومت لخوا په اسرائیلی اخبارونو او نشریاتو کی داسی خپرونی کیږی چی دنیول شویو ځمکو فلسطینیان دی ته وهڅوی چی امریکا ته ولاړ شی اوهلته میشته شی ، په دی خپرونوکی فلسطینی نوی ځوانان تشویقیږی چی که په امریکا کی تحصیل ته دوام ورکول غواړی نودهغوی دتحصیل ټول لګښت به امریکا په غاړه واخلی ، اوهغوی په امریکا کی ددایمی استوګنی لپاره هم پاتی کیدای شی . په دی ډول امریکا داسرائیلو له فلسطینی ځمکو نه دفلسطینیانو دشړلو په طرحه کی پوره شریکه ده ، اوس چی دغه خطرناک سازش عربو ته مخکی له مخکی افشاشو نوښایی چی عربی هیوادونه ددی په مقابل کی یوه ګډه طرحه جوړه کړی ترڅو دغه خطر ناکه نقشه شنډه اوناکامه کړی که نه وی دستراسرائیل دجوړولو لپاره به داداسرائیلو لومړی ګام وی له دی وروسته به یقیناً دنوروعربی هیوادونو واررارځی اسرائیل دسعودی عرب دلاسته راوستلو زیارهم باسی ترڅو دیوه ستراسرائیل دجوړولو طرحه یی کامیابه شی ، مسلمانان باید دلوی خدای (ج) ددی مبارک ارشاد په منلو کی نورڅنګونه کړی چی فرمایی :

ترجمه : «یهودوانصاری ستاسی دوستان نشی کیدای »

قرآن کریم مسلمانانوته ښایی چی له روس اوامریکا سره ددوستی پر ځای په خپلو منځونو کی اتحاد وکړی ترڅواسلامی نړۍ پرخلاف دیهودوانصاراو ګډ پلان ناکام کړای شی .

په اوسنیو حالاتو کی چی امریکا ،اروپا اوروسیه پخپلو منځونو کی سره متحد شول مسلمانانو ته هم یوسرتاسری اتحاد اویووالی تربل هر وخت نه زیات ضروری دی .

دامتحان نوی دګر اودملت ...

ورَاندی کړی وای نوځکه خوعبوری حکومت جوړیدل که څه هم ښه بنیادی مشکلات یی درلو دل او په جوړیدو کی یی پوره بیړه او سطحی اقدام له ورایه ښکاریده بیا هم یو ګټهور او مثبت ګام وُخو دابه هغه وخت وُ چی دعبوری حکومت دځپلو او اړوندو ټولو طرفونو خپلو پریکړوته احترام درلود لی وای اوپخپلو تعهداتویی عمل کړی وای او خپل حکومت ته ټول وفاداراو مخلص وای خو متأسفانه عبوری حکومت دپیښور د لوکسو بلډنګونو او تنظیمی وزارتونو په چوکاټ کی داړوند و تنظیمونو د رقابتونو او اختلافونو ډګرشو او بالاخره د رکود او جمود یوه داسی فضاد هجرت او جهاد په چاپیریال خوره شوه چی زموږ دمؤمن ملت دبیدریغه قربانیو او حماسو دبدنامید و ،بی ثمره کیدواو ضایع کیدو سختی اندیښنی راولاړی شوی لکه چی مخکی اشاره وشوه په دې کې هیڅ شك نشته چی اسلامی ګوندونو د جهاد او انقلاب په ساحه کی د خپل ظرفیت او امکاناتو له مخی پوره ګټهوره،مثبته او له ویاړه ډکه ونډه درلودلی خو داهم په ځای خبره ده چی زموږانقلاب او جهاد نور داسی مرحلی ته داخل شوی دی چی هلته تنظیمي چوکاټونه ډیروړوکی او دملت دغوښتنو أو آرمانو نو د ځواب کفایت نه لری او باید دا ټول تنظیمونه په یوه قیادت یوه اداره او یوه نظام په تشکیل متحد شی تر څو زموږ د مؤمن ملت دوولس کلن جهاد قربانۍ او قهرمانۍ خپلې منطقي نتیجی ته ورسیږی اوس چی یوځل بیا دیوه مقتدر اسلامی حکومت او یوی ځواکمنی دملت نماینده شوری د جوړیدو لپاره عبوری حکومت او دهغی تر شا ولاړوګوندونو په عملی اقدام لاس پوري کړی رښتیا هم مناسب او دملت دغوښتنو سره موافق قدم دی.

ځکه هرحرکت چی دملت تیت او پرك پرګنې او په ټوټو،ټوټو ویشل شوی بدن دتوحید او یووالی سبب شی دتائید او حمایی وړاو دجهاددمصالحو سره موافق دی خودابايد په پام کی ولرو چی ملت ممکن نور داتحاد په نوم ملنډی او دیوالی ترپلیټ فارم لاندې دنور ټوټه کیدو ځورول کیدو او ځپل کیدو توان او حوصله ونه لری او نه نړیوال او سیمه ایز حالات موږته ددی اجازه راکوی چی دملت له منابعو سره هم دځپلو شخصی ګټود تضمین کولو په قاعده برخوردوشی.داهم باید زیاته کړو چی د جهاد مشران چی په کومه طرحه پریکړه کوي او توافق ته رسیږی او بیا په اخلاص او صداقت د خپلی طرحی او پریکړی ترشاودریږی په ملت کی هیڅ داسی یاغی قوت او ځواك نشته چی بیا له یوې داسی اتفاقي منل شوی او دملت دغوښتنو سره موافقی طرحی سره مخالفت وکړای شی.له خدایه غواړو چې د انتخاباتو روانه پروسه او طرحه زموږدملت او جهادی قیادت دتوحید اوپه افغانستان کی دیو مقتدراو اسلامی حکومت دجوړیدو سبب شی.وګورو چی زموږ دجهادی قیادت او مجاهد قوت د امتحان پردغه نوی ډګر زموږ دردیدلی،ځوریدلی او په وینو کی خولم ولس ته څه وړیه برخه کوی ددوی دکلونو-کلونو د زړونو غوښتنه او مقدس آرمان اسلامی متحد او خپلواك قیادت په هیواد کی اسلامی نظام او حکومت اوکه خدای (ج) مه کړه دروانی تراژیدی اوږد او ځوروونکی تکراراو دوام ؟!

دهئیت تحریر ترنظر لاندي
مسوول مدیر: شهرت «ننګیال»
مرستیال: سیدمحي الدین «هاشمي»
مکاتباتي پته: پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
تیلفون ....(٤١٧٤٦)...

دخلیج په اره دبوش دپالیسي په خلاف په زرګونو تنو امریکایانو مظاهره وکړه

بوستن :۱۲، قوس :

دامریکا د«بوستن» ښارپه سرکونو کی په زرګونو تنو امریکایانودخلیج دمسلی په اړه د«بش» دغلطی پالیسی پر خلاف په سوله ایزو مظاهرولاس پوری کړ .

ویل کیږی چې خلیج ته دامریکایی پوځونو دورلیږلو پر خلاف دامریکایانو داترټولو لویه مظاهره وه چی په دی ښارکی وشوه. په دی مظاهره کی په زرګونو تنو ګډون کړی وُ چی په هغوی کی زده کوُنکی اومتقاعدوپوځیانو ګډون کړی وُ .

❀❀❀❀❀❀❀❀

اصابت راکت سکاد درتري منګل

دراثر اصابت دوراکت سکاد درمنطقه تری منګل کرم ایجنسی یازده تن شهید وپانزده نفر دیګر مجروح شدند.

طبق یك خبر مطبوعات این دوراکت که بتاریخ ۸قوس ازنزدیك کابل توسط رژیم ملحد پرتاب شده بود موجب تخریب پنج موتر وخساره مند شدن ده موتر دیګر نیز ګردیده است.

براساس خبر مذکورتلف شده ګان به استثنای دوتن ازافراد قبایلی همه افغانها می باشند .

راکت سکاد یکی ازمدهش ترین سلاحهای رژیم کابل است که کرملین بخاطر کشتن مردم وویرانی بیشتر وطن ما بدسترس رژیم منفورکابل می ګذارد وعمال رژیم ملحد نیز این سلاح راوحشیانه علیه مردم ملکی اراضی زراعتی وقرای مردم ما استعمال می کند که درنتیجه تلفات وخسارات فراوان بمردم وارد می ګردد.

هفت پوسته دشمن فتح ...

قوس یك عملیات مشترك رابر پوسته دشمن واقع قریه قره دشمن ولسوالی شکردره با استفاده ازسلاحهای ثقیل انجام دادند که درنتیجه هفت پوسته دشمن فتح وخساره قابل ملاحظه وارد آمد درخبر علاوه شده است که درجریان این برخورد تعداد زیاد افراد دشمن که درپوسته های مفتوحه متمرکزبودند هلاك ویا زخمی ګردیدند .

. طبق یك خبردیګر ازاثر عملیاتیکه مجاهدین درهفته اول قوس علیه مواضع دشمن درشکردره براه انداختند علاوه بر هلاکت بیست عسکر دوتانك ویك دستګاه بی ، ایم (١٤) رژیم ملحد کابل رانیز منهدم نمودند.

خبرحاکیست که درجریان این عملیات یك مجاهد شهید ودوتن دیګرمجروح شدند .

دمصر په انتخاباتو کی حاکم ګوند برلاسي شو

قاهره دعقرب (۱۱) :

دمصر په پارلمانی انتخاباتو کی دحسنی مبارك په مشری «نشنل دیموکراتیك ګوند» (١٤٤) چوکۍ ګټلی اوامید کیږی چی هغوی به اکثریت لاس ته راوړی ، په دی انتخاباتو کی ازادو ډلو (۲۳) چوکۍ ګټلی اوکومی چوکی چی نامعلومی پاتی دی دهغوی لپاره به دپنجشنبې په ورځ انتخابات وشی .

ویل کیږی دمصر کمونست ګوند اودحزب اختلاف دووګوندونو پر حکومت تورلګولی چی انتخاباتو کی لاس وهنی کړی نو په انتخاباتو کی یی دبرخی اخیستنی نه ډډه کړی .

په دی انتخاباتو کی په بیلابیلو سیمو کی دنښتو په ترځ کی (۹) تنه وژل شوی اوله (۱۳۰) څخه زیات کسان ټپیان شوی .

په افغانستان کی (۱۵) زره روسي پوځیانو وژل شوي دي

دروسیی دمشر ګورباچوف یوه مرستیال « جارجی سرکزو » دیوی مرکی په ترځ کی ویلی: په افغانستان کی داوږده جنګ له امله موږله داسی اقتصادی ستونزو سره لاس اوګریوان شوی یوو، چی تراوسه ځان په پیښوڅشودرولی اوموږفعلاً په داسی حالت کی نه یو چی خلیج کی دجنګ دپیښیدو په صورت خپل پوځونه هلته ورولیږو .

«جارجی » زیاته کړی : که روسان دخلیج په مسئله کی مستقیمه مداخله کوی دابه یو ډیر غیر دانشمند انه کاروی .

هغه دمرکی په ترځ کی دافغانستان مسله په اړه ویلی دی ؛ جنګ روسیه دسخت اقتصادی ستونزو سره لاس ګریوان کړی .

هغه زیاته کړی : دافغانستان په جګړی کی (۱۵) زره تنه روسیی پوځیان وژل شوی . دیادونی وړده چی روسانو دخپلو پوځونو دایستلو په وخت کی دخپلو وژل شووعسکر و شمیر (۱۳) زره ښودلی وُ .